# Orientation to Ontario

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o

# فرانکوفون (فرانسوي ژبه ويوونکي)اونټاریو ته نوي راغلي

## د فرانکوفون (فرانسوي ژبه ویونکو) ټولنه په اونټاریو کې

د فرانسوي ژبې خدمتونو قانون د یوه فرد حق تضمینوي چې په 25 ټاکل شویو ساحو کې د اونټاریو د حکومت له وزارتونو او ادارو څخه په فرانسوي ژبه خدمتونه ترلاسه کړي.

د 25 ټاکل شویو ساحو په اړه د نورو معلوماتو تر لاسه کولو لپاره ofa.gov.on.ca/fr وګورئ.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په 1 866 235 1613 (له وړیا) یا په ټورنټو (416) 314 5518 کې د ServiceOntario Infoline سره اړیکه ونیسئ

کېدای شي تاسو په اونټاریو کې داسې ټولنې غواړئ چې په فرانسوي ژبه بېلابېلو خدمتونو ته لاسرسی ولرئ.
د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ لینک وګورئ
etablissement.org/findhelp مراجعه کنید

که تاسو ملګري یا کورنۍ اونټاریو ته د تګ په اړه فکر کوي، تاسو کولی شئ دوی ته بلنه ورکړئ چې immigrationfrancophone-ontario.ca وګوري.




دلته به دوی د فرانکوفون ټولنو او هغو خدمتونو په اړه معلومات ومومي چې د دوی لپاره شته؛ لکه د تعلیم، سوداګرۍ، کارموندنې او روغتیا پاملرنې په اړه محلي معلومات.

دا قانون دا تضمینوي چې په ایالتي حکومتي دفترونو کې باید په فرانسوي ژبه خدمتونه موجود وي.

## سرچینې شته

د مېشتېدنې معلومات

دا چې تاسو په اونټاریو کې اوسېږئ د موندنو لپاره ډېرې ګټورې سرچینې شته.

تاسو ته نږدې د مېشتېدنې ادارې موندلو لپاره etablissement.org/findhelp ته مراجعه وکړئ

د اونټاریو حکومت په اونټاریو کې د فرانسوفون نوو راغلو خلکو لپاره ارزښتناک معلومات لري. د فرانکو-اونټاریو ټولنې په اړه او په اونټاریو کې د فرانسوي ژوند کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې لینک وګورئ stage.ontarioimmigration.ca

په اونټاریو کې د مېشتېدو لپاره به تاسو د بېلابېلو ساحو په اړه معلوماتو ته اړتیا ولرئ لکه د کور، کارموندنې، روغتیا پاملرنې، حقوقي خدمتونو، تعلیم، کلتور، ژوند کولو او ډېر نور. د جزیاتو لپاره، مهرباني وکړئ لاندې لینک وګورئ etablissement.org

د ټولنیزو خدمتونو موندلو لپاره چې تاسو ورته اړتیا لرئ یا په اونۍ کې د ۷ ورځې 24 ساعته خدمتونو په اړه د معلومات تر لاسه کولو لپاره 211ontario.ca/fr ته لاړ شئ یا 211 ته زنګ ووهئ.

د بېړنۍ اورېدو ستونزې د حل لپاره 1-888-340-1001 ته زنګ ووهئ. کله چې تاسو 112 ته زنګ ووهئ، تاسو به د ماشین پر ځای له یو کس سره خبرې وکړئ او خدمتونه وړیا او محرم دي. خدمتونه په 100 ژبو شته.

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

## ګمارنه

اونټاريو  ډېرو بېلابېلو کارونو او صنعتونو په لرلو سره يو پياوړی، متنوع اقتصاد لري. د خپلې دندې د لټون د فرصتونو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره Emploi Ontario ته په 5656 387 0081 زنګ ووهئ يا ontario.ca/fr/communities/employment ته لاړ شئ.

## ښوونه او روزنه

په اونټاريو کې د عامه تمويل شويو ښوونځي څلور سيستمونه شته: په په فرانسوي ژبه عامه او کاتوليک سيستمونه؛ په انګليسي ژبه عامه او کاتوليک سيستمونه. د فرانسوي ښوونځيو 12 بورډونه يا پلاوي دي، چې د 425 فرانسوي ژبو ښوونځيو استازيتوب کوي. د نورو معلوماتو لپاره لاندې لېنک وګورئ ontario.ca

## روغتيا او ټولنيز خدمتونه

که تاسو د روغتيا او ټولنيزو خدمتونو په برخه کې په فرانسوي ژبه  د خدمتونو په لټه کې ياست نو cliquezsante.ca/frلېنک وګورئ.

## ښځې

که تاسو يوه فرانسوفون (فرانسوي ژبه ويونکې) مېرمن ياست چې له تاوتريخوالی مخ يئ او مرستې ته اړتيا لرئ، مهرباني وکړئ د 1-877-336-2433 يا د اوريدلو د کمزورتيا لپاره د مېرمنو لپاره مرستې دفتر  Fem'aide ته زنګ ووهئ،

1-866-860-7082. دا د فرانسوفون مرستندويه کرښه يا لاين دی په ورځ کې 24 ساعته، په اونۍ کې 7 ورځې ورته لاسرسی کېږي. د دې خدمت په اړه د نورو معلوماتو لپاره لېنک وګورئ  femaide.ca

تاسو کولی شئ د nouveauxjeunes.ca ليدلو له لارې د نوي راغلو ځوانانو لپاره په آنلاين  غونډو کې برخه واخلئ .

دلته تاسو کولی شئ د ځوانانو لخوا د دوی د مېشتېدنې د سفر په اړه جوړې شوې ويډيوګانې وګورئ، د بحث ګروپونو سره يوځای شئ او د ښوونځي، کار، کور او ډېرو نورو   امتيازاتو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

که تاسو له 20 کالو کم عمر لرئ  او تاسو اړتيا لرئ چې د يو چا سره د هغو ستونزو يا مشکلاتو په اړه خبرې وکړئ چې تاسو ورسره مخ ياست، تاسو کولی شئ 0081 668 6868 شمېره  په اونۍ کې 7  ورځې ۲۴ ساعته  اړيکه ونيسئ. دا خدمتونه نامعلوم، وړيا، محرم او مسلکي دي. د نورو معلوماتو لپاره  لېنک وګورئ. jeunessejecoute.ca